


دکتور حبيب الله تږی

مارګنسټرن د اسلامي دائرة المعارف په هم دې مضمون کښې ځنې ښکاره سهوې هم کړې دي او د دې خبرې عمده دليل هم دوه شيان ښکاري. يو دا چې د دهٔ د مضمون د اصلي نسخې د ليکنې په وخت کښې هغه پخواني اسلامي تحريري اسناد چې د پښتنو په تاريخي موجوديت او اجتماعي حالت نسبي رڼا اچولې شي، دومره نهٔ وو راسپړل شوې. بل دا چې خپله د مارګنسټرن تبحر هم په ژبنيو مطالعاتو کښې وهٔ او د سيمې د تاريخي مطالعاتو او زړو متونو په ساحه کښې ئې ډېر کار نهٔ وهٔ کړې. ځکه نو دا څهٔ عجبه نهٔ ده چې هغه په هم دې ځائې کښې يوه ښکاره اشتباه هم کوي او ليکي چې غزنوي سلطان محمود په يوه بله موقع کښې په پښتنو يرغل وکړو او سزا ئې ورکړه او دا خبره بيهقي په ډاګه کړې ده. (اسلامي دائرة المعارف ټوک ۱ مخ ۲۱۷) خو حقيقت دا دې چې بيهقي په پښتنو د سلطان محمود د حملو په باره کښې يوه کلمه هم نهٔ ده وئيلې. البته د غزنويانو د عصر يو بل معروف مورخ عتبي لکه څنګه چې د دې ليکنې په څلورم فصل کښې په يو څهٔ تفصيل خبرې پرې شوې دي په پښتنو د محمود د يرغل يادونه کړې ده.

مارګنسټرن په هم دې ليکنه کښې دا هم وائي چې د ابدالو اصل او نسب مجهول دې خو د غلځو په باره کښې دا امکان شته چې د نامهٔ د تسمې وجه ئې يو عاميانه روايت وي. (اسلامي دائرة المعارف ټوک ۱ مخ ۲۱۷) کهٔ څوک د ابدالو د اصل او نسب په باره کښې په داسې افسانه پسې ګرځي لکه د غلځو د نامهٔ په باره کښې چې جوړه شوې ده، نو خبرو ته هيڅ ځائې نهٔ پاتې کېږي. ځکه چې په علمي مطالعاتو کښې دغه راز يو بې بنياده روايت نهٔ د يوې تاريخي حادثې د رد دليل کېدې شي او نهٔ ئې د تائيد او نهٔ په بحث ارزي. خو څهٔ رنګه چې مارګنسټرن يو لوئې عالم وهٔ او اولف کېرو هم د درانو په باره کښې هم دا خبره کوي نو بايد هرو مرو څهٔ پرې ووئيل شي.

اولف کېرو هم وائي چې ((د درانو اصل او نسب مجهول دې او د ستر شاه عباس تر وخته پورې (د تاريخ) له تيارو نه نهٔ وهٔ راوتې. (دي پټانز، مخ ۹۰)

دلته لکه د نورو غونډې د کېرو استناد هم په دې خبره دے چې بابر په ((بابر نامه)) کښې د اکثرو هغو سيمو د پښتنو قبائلو او قومونو نومونه اخستي چې يرغلونه ئې پرې کړي دي. خو د ابدالو نوم ئې سره له دې چې قندهار ئې نيولے دے، نۀ دے اخستے. (دي پټانز، مخ ۱۵۵-۱۵۶)

بايد ووئيل شي چې په قندهار د بابر د حملې او د قندهار د ښار د نيولو په وخت کښې د قندهار واکداران دوه تنه مغلي وروڼه شاه شجاع ارغون، چې بابر ئې شاه بېگ بولي او د هغۀ کشر ورور محمد مقيم دي. ځکه نو د بابر زياتره يادونې د هم دې وروڼو او د هغوي د مغلو حواريونو او نوکرانو او افسرانو په باره کښې دي او د قندهار له پښتنو سره ئې نۀ کوم ټکر کړے او نۀ په کوم بل لحاظ د دغې سيمې له پښتنو سره محشور شوے دے. ځکه نو بابر په قندهار کښې نۀ يواځې د درانو يادونه نۀ کوي بلکې بېخي د پښتون نوم نۀ اخلي. کۀ بابر د درانو پښتنو يادونه نۀ کوي دا څۀ عجيبه خبره نۀ ده.

بابر د نورو پښتنو اقوامو او مشرانو نومونه، معمولاً هغه وخت اخستي چې يا د خپلو عملياتو او چور چپاو په وخت کښې ورسره مخامخ او يا د کوم بل ضرورت په بنا ورسره محشور شوي دي.

علاوه په دې کۀ په بابر نامه کښې د ابدالو نوم نۀ دے راغلے نو په آئين اکبري کښې خو چې له بابر نامې نه يو څو لسيزې وروستو ليکلے شوے او د هند د مغلو د عصر يو تر ټولو نه پخوانے مستند اثر دے، په واضح ډول ذکر شوے دے.

کله چې ابوالفضل د قندهار په شرقي مضافاتو غرېږي دوه وارې ((ابدالي قبيله)) يادوي او هغه ماليه ښيي چې ان د صفويانو د دولت په اول سر کښې او يا خپله د مؤلف په قول د قزلباشانو په وخت کښې پرې وضع شوې وه. (ابوالفضل، آئين اکبري ټوک ۲ مخ ۴۰۳)

علاوه پر دې کله کۀ په پښتنو قبائلو باندې د نسب د شجرې په اساس بحث کېږي هلته نو بيا دا خبره چې د درانو اصل او نسب مبهم دے، په يوۀ بل دليل هم بې ځايه ښکاري. د نسب د شجرې په اساس ابداليان د ترينو يوه پښه ده او ترين هغه پښتنه قبيله ده چې له بابر نه ډېر وړاندې په تحريري اسنادو کښې ياده شوې ده. له دغو اسنادو نه يوه هغه کتيبه ده چې نقل ئې ماته لوئے محقق عبدالحئ حبيبي راکړے دے. دا کتيبه په څوارلسمه ميلادي پېړۍ کښې د هغه يوۀ ماجت په دېوال ليکل شوې ده چې د غازي خان د ډېرې په ((بارکهان)) کښې واقع دے. کتيبه په فارسي ليکل شوې او پښتو ترجمه ئې دا ده:

((دا د ملک پويا تور ترين موسياني خېل مسجد د فېروز شاه په عهد کښې سنه ۷۷۰ هجري کښې ودان شو.))

علاوه پر دې څنګه چې د دې ليکنې په څلورم فصل کښې به وليدل شي، سېفي هروي په تاريخ نامه کښې د پښتنو د يوې ډېرې سترې قبيلې يادونه په هغې سيمه کښې کوي چې تراوسه هم ((ترين)) پکښې هست دي. دې ليکي چې د دغې قبيلې د يوۀ مشر نوم هرمز ((تري)) وۀ او د سېفي د بحث له قرينې نه ښکاري چې ((تري)) پرته له ((ترين)) نه بل څۀ نۀ شي کېدے.

کله چې اولف کېرو خپله هم د يوسفزو په هغه مهاجرت غږېږي چې د تواريخ حافظ رحمت خاني د متن له مطالعې نه ئې وخت د پنځلسمې پېړۍ اواخر

ښکاري، وائي چې دغه مهال ابدالي (دراني) ترين کنډل کېدل. (د پټهانز، مخ ۱۷۷و ۱۷۸)

د دې ټولو خبرو په رڼا کښې سړے وئيلے شي چې د درانو تاريخي هويت دومره په تيارهٔ کښې نهٔ دے پټ لکه مارګنسټرن او کېرو چې وائي.

مارګنسټرن په اسلامي دائرة المعارف کښې يوه بله مغشوشه خبره هم کوي او وائي دا نهٔ ده معلومه چې په پخوا زمانه کښې افغانان د سلېمان له غرهٔ نه د غرب خوا ته څومره وړاندې خوارهٔ وو، خو دې وائي په پخوانو آثارو کښې هيڅ داسې څهٔ نهٔ دي وئيل شوي چې له غزني نه د غرب پلو ته دې د پښتنو سکونت وښيي. (اسلامي دائرة المعارف، ټوک ۱ مخ ۴۱۲) د مارګنسټرن دا خبره هم له هغه څهٔ سره اړخ نهٔ لګوي چې په تاريخي اسنادو کښې راغلي دي. په څلورم فصل کښې به وښودل شي چې ډېرو اسلامي آثارو په هغې ساحې کښې چې له هرات نه د اباسين تر غاړو پورې امتداد لري، له قديم نه پښتانهٔ ميشته ښللي او د دغې سيمې مختلفې برخې ئې په يوهٔ يا بله نامه د پښتنو د نفوس د اکثريت او د سکونت د قدامت له امله هم دوي ته منسوبې کړې دي. هم دې آثارو لکه څنګه چې په اتم فصل کښې مفصل بحث پرې شوے دے د څوارلسمې پېړۍ په اوله نيمايۍ کښې يوه لويه سيمه د ((افغانستان)) په نامه ياده کړې ده.

### د دريم فصل يادداشتونه:

1. لوونتال، ايسيدور، د بنګال د آسيائي ټولنې مجله، ټوک ۲۹ مخ ۳۳۱.
2. هم دا اثر هم دا مخ
3. هم دا اثر هم دا مخ
4. بيليو، هنري، د افغانستان د قوم پېژندنې مطالعه مخ ۱۹۸-۲۰۴، لوونتال، د بنګال د آسيائي ټولنې مجله، مخ ۳۳۱، ګريرسن جورج، د هند د ژبو سروې، ټوک ۱ مخ ۱۰۶، هم دا اثر، ټوک ۱۰ مخ ۵، کېرو اولف، دي پټهانز مخ ۳۵-۴۱.
5. ګريرسن، جورج د هند د ژبو سروې، ټوک ۱۰ مخ ۵.
6. بيليو، د افغانستان طوائف، مخ ۱۹۶۷-۷۷، د قوم پېژندنې مطالعه، مخ ۸۹-۹۱، د هند د ژبو سروې، ټوک ۱ مخ ۱۰۶، هم دا اثر ټوک ۱۰ مخ ۵، دي پټهانز مخ ۳۲-۳۳
7. مارګنسټرن، جورج، اسلامي دائرة المعارف ټوک ۱ مخ ۲۱۷.
8. کېرو، دي پټهانز، مخ ۳۲-۳۳
9. مارګنسټرن، جورج اسلامي دائرة المعارف، ټوک ۱ مخ ۲۱۷
10. سپرنګ لنګ، ام، د امريکا د سامي ژبو او ادبياتو مجله ټوک ۱۰۷ مخ ۴۱۲، کال ۱۹۴۰
11. کېرو، دي پټهانز مخ ۷۹-۸۰
12. ګريګورين، ورتن، د معاصر افغانستان ظهور، د مخ ۲۹ حاشيه
13. دوسغ سيو، د فارس د انقلابونو تاريخ، ټوک ۱ مخ ۱۳۷-۱۳۹
14. بيليو، د افغانستان د قوم پېژندني مطالعه مخ ۲۰۵
15. اسلامي دائرة المعارف ټوک ۱ مخ ۲۱۷
16. وراهه ميهيرا، دي برات- سنهيتا مخ ۱۱۰ نمبر ۳۸-۳۹

17. د هند د ژبو سروې ټوک ۱۰ مخ ۵
18. کننګم، جورج د لرغوني هند جغرافيه مخ ۱۰۰
19. هم دا اثر مخ ۱۰۳
20. هروي، ازرقي، ديوان مخ ۵۱
21. درويزه اخوند ، مخزن الاسلام، مخ ۱۳۵
22. هروي سيفي، د هرات تاريخ نامه، مخ ۱۹۹


نور بيا